مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۹/۲۰

# زړه او خوله

زړه کی چی دعاوې وی، نو خولې ته ښیرا نه راځي
زړه ته که ښیرا راشي، بیا خولې ته دُعا نه راځي

زړه لکه د مور غوندی، خپه وی خو ناراض نه وی
سترګو ته د مور، له اولاد پرته دنیا نه راځي

زړه کی بی له مینې، یار ته نور څه ځایدای نه شي
دا مینه زخمي که شوه، شفاء ورته بیا نه راځي

مینه څه متاع، د خر څیدو د اخستو نه ده
بیرته په ستنه، له جسم بیله اروا نه راځي

ته لکه سپوږمی، چی می تیاره ژوند ته رڼا راغلې
بیا که رانه بیله شوی، تیارو ته رڼا نه راځي

تا ته به معلوم نه وی، د میني کرامت پوه یم
بی ښکلی «یوسف» نه، په ځوانی زلیخا نه راځي

پام چی سا ایستنه، بی هوا نه شوني نه ښکاری
بندي کوټنۍ ته، له هوا نه هوا نه راځي

چیرته خو یوځل کړه، سر ښکاره د کلیوال زړه ته
ولی داسی شین دی، چي په خوله یی خندا نه راځي؟

سپتمبر/۵/۲۰۲۰
ایجکس – تورنتو - کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ